**مطبوعاتی اعلامیه**

۱۶ اُکتبر ۲۰۲۲

## د ډیالوګ او ترقي مرکز-ژنو کنفرانس
## ملي ګفتګو؛ د مدني ټولنې رول او په افغانستان کې د دموکراتیکو ځواکونو راټلونکی

## ۱۳-۱۴ اکتبر ۲۰۲۲، ژنو، سویس

د ډیالوګ او ترقي مرکز - ژنو د "ملي ګفتګو؛ په افغانستان کې د مدني ټولنې رول او د دیموکراتیکو ځواکونو راتلونکی" کنفرانس د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر په ۱۳-۱٤، د سویس په جینوا کې جوړ کړ. په دغه دوه ورځني کنفرانس کې له ۶۰ څخه زیاتو روښنفکران، د مدني ټولنې مشرانو، د بشري حقونو، پوهنې، اقتصادي او پرمختیایي چارو متخصصینو د افغانستان د ژوند له ټولو برخو څخه د افغانستان پر وضعیت او ننګونو او همدارنګه د مدني ټولنې پر رول او د راتلونکي په جوړولو کې خبرې وکړې.

له دوو ورځو خبرو او بحث وروسته ګډونوالو په لاندې مهمو ټکو ټینګار وکړ:

- هغه ټولني-اقتصادي پرمختګونه چې په تېرو دوو لسیزو کې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې د طالبانو د پوځي واک تر اخیستو مخکې ترلاسه شوي، په هېواد کې د پام وړ مثبت ټولنیز بدلون لامل شوي؛ مهمه ده چې د دوی د ساتلو لپاره لازې چارې وپیژندل شي،
- له بشري حقونو څخه په سیستماتیک ډول سرغړونې او د خلکو له بنسټیزو حقونو او ازادیو څخه محرومیت په اوسني وضعیت کې عاجل بدلون او ملي او جهاني پاملرنې ته اړتیا لري. او د مدني ټولنې د یوې متحدې جبهې د جوړولو اړتیا ده څو د تیرې اشتباهات تکرار نه شي،
- په دې وروستیو کې تبعید شوي افغان مسلکي کسان او همدارنګه د افغان دیاسپورا ټولنه باید د هیواد د راتلونکي په اړه په بحثونو کې شامل وی، ترڅو د هیواد د راتلونکي لپاره د یو باثباته او دوامداره بدیل په لټه کې شي،
- د ۲۰۰٤ کال د اساسي قانون له لغوه کیدو سره، د خلکو او واکمنې اداري تر منځ نور ټولنیز تړون شتون نلري؛ د خلکو اراده چې د ټاکنو او ټولپوښتنې له لارې عملي کېږي، د هېواد د مشروعیت یوازینۍ سرچینه ده،
- د دغه کنفرانس ګډونوالو په سیمه کې د متقابلو اړیکو په درک کولو سره، د تلپاتې سولې او اقتصادي خودکفایي لپاره پر سیمه ییزو همکاریو ټینګار وکړ،

- سره له دې چې په تیر کال کې د عوایدو تولید (۱،۲ – ۱،۷ امریکایي دالر) ادعاوې سره، اقتصاد په ناامنه حالت کې دی. د ناخالصو تولیداتو دریمه برخه د لوږې په سختو شرایطو کې د ۲۰ ملیون څخه زیاتو خلکو سره له لاسه ورکړې. مالي او بانکي سکتور د سقوط په درشل کې دی. نړیوال غبرګونونه باید مدبرانه، مشورتي او ټول شموله عملي شي.
- د ډیالوګ او ترقي د مرکز تر مشرۍ لاندې کنفرانسونه باید دوام پیدا کړي او په څلورو موضوعاتو کې چې په دغه لومړي کنفرانس کې په ګوته شوي تمرکز وکړي،
- د افغان ډیاسپورا نوي راغلي غړي باید په ګډه د یوې شبکې له لارې چې د دوی د لاپیاورتیا فرصتونه برابره کړی او دوی ته د افغانستان د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي راتلونکي په اړه د نظریاتو د تبادلی زمینه مساعده کړی، په ارتباط کې ووسي.

د ډیالوګ او ترقي مرکز-ژنو ژمن دی چې په دې لومړي پړاو کنفرانس کې په ګوته شوي سپارښتنې او طرزالعملونه تعقیب، او د افغانستان د راتلونکي په اړه په بحثونو کې د مدني ټولنې او دیموکراتیکو ځواکونو ګډون ته فرصت برابره کړي.

---پای---